په اروپا کی دمیشته افغانانو د تولنو فدراسیون

فدراسیون سازمانهای پناهندگان افغان در اروپا

**Federation of Afghan Refugee Organizations in Europe**

**شهر هاگ 14 دسمبر20**

# ډ پاکسان د اردو راکتونه افغان ملکی وګړی په نښه کوی

دپاکستان اسلامی جمهوریت برسیره په نیابتی جګړه چه دطالبانو په ذریعه دافغانستان دامنیت، ثبات او پرمختګ دمخنیوی دپاره مخ ته بوزی، دډیرو کلونونه راپدی خواه په علنی توګه هم دافغانستان پرسرحدی خلکواو کلیو بانډوباندی راکتی جګړه ته ادامه ورکوی. دپاکستان راکتی جګړه دخاص استراتیژیک اونظامی اهدافو د لاس ته راوړو دپاره مخ ته بیول کیږی. پاکستان غواړی ددغه راکتونو په واسطه دسرحدی ولسوالیو خلک پدی مجبوره کړی چه دخپل کلیونه کډه وکړی. اټکل کیږی چه دپاکستان دوهم قدم به دا وی چه دیو ټاکل شوی سناریوپه اساس دالقاعده او طالبانو پرځینی پټ ځایونو باندی هوایی دزی وکړی او بیا ISI ته وفادارډلي دکډوالو ترنامه لاندی تش شوی مناطقو ته واستوی اوددیورند دکرښی پدی خوا کی هم خپل نفوذ زیاته کړی. دسهیلی آسیا دپاره د BBC انګیسی ژبی وبسایت د۲۰۱۱ کال دجون دمیاشتی په ۲۷ نیټه خبرورکړچه دپاکستان د۲۱ ورځني راکتی حملی نه وروسته، په تش شوی ځایونوکی سمدستی «کډوال» خای په خای شویدي. لند دا چه پاکستان بیاهم غواړی چه د۱۹۹۲ او۱۹۹۶ په شان خپل القاعده اوطالب اجیران دننه په افغانستان کی ځای پرځای کړی اوځان داوسنۍ شرمجن نړیوال موقف نه وژغوری. یعنی القاعده اوطالبان افغانستان ته صادرکړی خو ددوی واک پخپل لاس کی وساتی او هغوی دافغانستان اونورهیوادونو پرخلاف وکاروی. که دپاکستان دا پلان عملی شی، دا هیواد ادعا کولای شی چه دبین المللی تروریستانو پټ ځالي نورپه پاکستان کی نه بلکه په افغانستان کی دي.

دفارو دپاره یوه بله دپاملرنی وړخبره دا ده چه دپاکستان ددولت راکتونه ملکی اهداف په نښه کوی. پاکستان پراستوګنی خایونوباندی ړوند راکتونه الوزوی او ګن شمیرملکی خلک ددغه اوږدواټن



راکتونوسره وژل کیږی یا ټپیان کیږی، کورونه ورانیږی اودخلکو په مینځ کښې ویره پیدا کیږی. دمثال په توګه دمی دمیاشتی په ۱۵ نیټه، دری اوږدواټن راکتونه دپاکستان نه دننګرهارولایت درودااتود په ولسوالی باندی فیرشول. ددی نه یوه راکت دکمپ کابلی په نامه دنجونوښوونځی ته نږدی پداسی حال ولګیده چه شاګردان ددرسونو دختمیدو نه وروسته

دښوونځی نه وتلی وه چه دخپل کور خوا ته لاړشی. ددغه پاکستانی راکت سره یوه نجلی مړ او اته نورټپیان شول. عجیبه خبره داده چه غربی هیوادونه چه معمولاً دښځو او نجونوپه مشکلاتو کی ځان شریک بولی، دخپل پنجابی دوستانو دتورمخ په خاطر، دافغان نجلي په ارتباط چوپتیا غوره کړل. ددغه حادثی نه دمخه، دجنوری دمیاشتی په ۲۸ نیټه دکنرپه ولایت باندی دپاکستان داردو لس ګونه راکتونه ولګیدل چه د دری ماشومانو دمرګ او داتو نورو ماشوانو دټپی کیدو سبب شول.

په اوسنی نړی کی هیوادونه باید خپل کړووړد بین المللی قوانینو او اصولوپه چوکات کی وساتی. پاکستان ټول قوانین ترپښو لاندی کوی لیکن ځان دانکارترپردی لاندی پټوی. دراکتونوپه اړه هم پاکستان د انکار لاره غوره کړی ده او داسی ادعا کوی چه ګواکی دا اوږد واټن راکتونه دننه د افغانستان نه دافغانستان ددولت دمخالفینو لخوا الوزول کیږی. داادعا لدی کبله هم دخندا وړ ده چه افغانستان دولت اوافغان طالبان دا ډول راکتونه اصلاً نلری. دبین المللی حقوقو په اساس که ددوه هیوادونو ترمینځ رسماً دجنګ حالت هم موجود وی، نظامی حمله پرملکی اهدافو باندی جنګی جنایت بلل کیږی. هره راکت چه دپاکستان دخاوری نه افغانستان ته الوزل کیږی، دبین المللی حقوقونه سرغړونه اوجنګی جنایت بلل کیږی.



په ۲۰۱۲ کال کی دغه راکتونه په کونړکی د امریکایانو هدی ته لګیدلی وه. امریکایان وویل چه ددغه راکتونودفیر دځای په هکله تحقیقات کوی او دتحقیقاتو نتیجه خپروی. تر لوسه پوری امریکا دخپل تحقیق ننیجه نده اعلان کړی. درویترز دیورپورت له مخی ، په ۲۰۱۲ کال دجولای دمیاشتی په دوهمه نیټه فرامرز تمنا دافغانستان دخارجه وزارت ویاند وویل چه که په افغانستان باندی دپاکستان ددولت راکتی حملی بند نشی او دوام وکړی، دافغانستان دولت به دا مشکل ژرترژره دملل متحد امنیت شورا ته به وړاندی کړی. پاکستان خپل حملی ته دوام ورکړ. څواوني وروسته د۲۰۱۴ کال دجولای میاشت پیل کیږی خو دپاکستانی راکتونودقضیی په هکله خارجه وزارت لا تر اوسه پوری سکوت کړی ده. دافغانستان حکومت باید دا جرأت پیدا کړی چه دپاکستان ددغه تیریواسنادرا ټول کړی او دخپل ارضی تمامیت اودافغان ملت د دژوند اوانسانی کرامت نه د بین المللی قوانینوپه ملاتړ دملل متحد دټولنی اونړیوال افکارپه مرسته دفاع وکړی.

"دفارودبشری حقوقوکمیټۀ "